# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

ګڼه: ۵

نېټه: ۱۴۰۳/۹/۲۸



د افغانستان د اقتصادي پرمختګ (خبر پاڼه) د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت نوښت دی چې د افغانستان تر ټولو مهم او وروستي اقتصادي پرمختګونه منعکسوي.

د دې خبر پاڼې په لوستلو سره چې په درېیو ژبو (پښتو، دري، انګلیسي) چمتو او خپرېږي، تاسو کولی شئ د افغانستان د وروستیو اقتصادي پرمختګونو څخه خبر شئ.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د فراه د بخش اباد بند د انحرافي تونلونو د سیخ ټړلو چارې بشپړې شوې

۲- په هېواد کې د روسي پانګوالو له پاره د پروژو تشخیص

۳- اقتصادي کمېسیون کې د کورنیو تولیداتو په کارونې ټینګار

۴- د کابل-کندهار سړک کاري پرمختګ

# د فراه د بخش اباد بند

## د انحرافي تونلونو د سيخ تړلو چارې بشپړې شوې



په فراه ولايت کې د جوړېدونکي بخش اباد بند د انحرافي تونلونو چارې بشـــپړې شوې دي. د فراه رود د سينديزې حوزې مسوولين وايي، اوس د انحرافي تونلونو د قالــب بندۍ چارې روانې دي چې ژر به بشپړې شي.

د فراه ولايت مسوولين د ياد بند د کار له چټکۍ خـــبر ورکوي او وايي چې د بنـــد له چارو څخه نظارت کيږي. اسلامي امارت ژمن دی چې د ياد بند چارې په ښه کيفيت او ژر بشپړې کړي.

د بخش اباد بند سروې په ۲۰۰۹ م کال کې يو هندي شرکـــت د څو نورو شرکتونو په مرســـته تکميــل کـــړې وه او پــه ۲۰۱٦ کال کې يې تفصيلي ډيزاين هم تکميل شـــوی و. د هېواد اشغال، فســـاد او بې کفايتۍ له امله يې چارې همداســـې پاتې وې . خو د افغانستان اسلامي امـــارت واک ته له رســـېدو وروســـته اقتصادي کمېسيون يوې کمېټې ته دنده وسپارله، څو د يـــاد بند تـــول اړخونـــه وارزوي او خپـــل راپور اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي.

اقتصادي کمېسيون د کمېټې د راپور له اوربدو وروسته د ياد بند د چارو د بيا پيل پرېکړه وکړه او په همدې موخه د رياســـت الـــوزراء اقتصادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند ۱٤۰۲ لمريز کال د غوايي مياشتې په ۳۰ مه نېټـــه د بخش اباد بنـــد د کانالونـــو د جوړولو پرانېسته وکړه.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا صاحب د فراه خلکو ته په خپله وينا کې د بخش اباد بنـــد پروژه حياتي او مهمه وبلله او وې ويل چې د بخش ابـــاد پروژو په څېـــر د لويو پروژو پرانېسته، چې د هېواد د خلکو اقتصاد ورسره ښه کېږي، د اسلامي امارت مسووليت دی.

د بخـــش اباد بنـــد چې د فراه له ســـيند څخه سرچينه اخلي، د هېواد لـــه مهمو بندونو څخه دی او ډېـــرې اوبه ذخيره کـــوي. د فراه ولايت اوسېدونکي د ځمکې لاندې اوبو له کمښت سره مخ دي او د دغـــه بند له امله به د فراه ولايت د اوسېدونکو دغه ستونزه حل او کرنه به ورسره نوره هم وغوړېږي. دغه بند به ٦٨ زره او ٥٩۰ هکټاره ځمکه خړوب کړي. دغه راز، ياد بند به ۲۷ مېگا واټه برېښنا هم توليد کړي چې ورسره به تر ډېره بريده د فراه ولايت د اوسېدونکو د برېښنا ستونزه هم حل شي.

اســـلامي امارت په ټول هېواد کې د نيمګړو او نويو پروژو ارزونه کړې او پټېيلې يې ده چې پاتې چارې به يې بشپړوي، څو د افغانستان اقتصادي وده کې مرسته وکړي.

# په هېواد کې د روسي پانګوالو لپاره د پروژو تشخيص



افغانستان تازه له اشـــغال خلاص او له جګړو رابهر شـــوی او اوس د بې ساري امنيت له امله په‌کې بهرنۍ او کورنۍ پانګونې ته زمينه برابره شوې ده. د همدې هڅو په لړ کې په هېواد کې د بهرنۍ پانګونې د جلب په موخه د رياســـت الـــوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محـــترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند د ۱٤۰۳ لمريز کال د ليندۍ مياشـــتې په ۲٥ مه نېټـــه پـــه مرمرينه ماڼۍ کې له سکټوري وزارتونو سره مهمه ناسته ترسره کړه.

په ناســـته کې په افغانســـتان کـــې د روسي پانګوالو د پانګونې له پاره د کاري ســـاحې په موندلو بحث وشـــو او اړونـــده وزارتونو ته دنده وسپارل شـــوه، څو هر وزارت او مستقلې اداري په خپله کاري ساحه کې د هېواد په کچه لويې او مهمې اقتصادي پروژې په نښـــه کړي او له تفصيلي معلوماتو سره يې د رياســـت الوزراء له اقتصادي معاونيت سره شريکې کړي.

وروسته به د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت دغه پروژې د روسیې د ملي امنیت شورا له عمومي منشي سرګې شویګو سره شریکوي، څو دواړه لوري په افغانستان کې د یادو پروژو د پلي کېدا په اړه توافق ته ورسېږي.

د روان لمریز کال د لیندۍ میاشتې په پنځمه نېټه د روسیې د ملي امنیت شورا منشي شویګو کابل ته سفر کړی و او د ریاست الوزراء له اقتصادي مرستیال سره یې د نورو موضوعاتو تر څنګ په افغانستان کې پر پانګونې خبرې کړې وې. روسي لوري ویلي وو چې روسي شرکتونه په افغانستان کې پانګونې ته لېوالتیا لري او غواړي په بېلابېلو برخو کې په افغانستان کې پانګونه وکړي.

په دغه ناسته کې روسي لوري د ۱۲ تولیدي او صنعتي روسي شرکتونو یو لست د اسلامي امارت له مسوولینو سره شریک کړی و. په لست کې د هغو شرکتونو نومونه راغلي وو چې غواړي په ساختماني، اوسپنې پټلۍ، کیمیاوي موادو تولید او انجنیرۍ برخه کې کمپیوټري پروګرامونو، نفت او ګازو استخراج، کرنیزو ماشین الاتو تولید، د انرژۍ د سترو ماشین الاتو تولید، د معدن جیولوجیکي سروې او نقشه اخیستنې، د سولر پینلونو د تولید او د پایپونو د تولید په برخه کې په افغانستان کې پانګونه وکړي.

په همدې موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د پانګونې بین الوزراتي کمېټې ته دنده وسپارله، څو له دغو ۱۲ روسي شرکتونو سره د لا ښې همغږۍ په موخه انلاین ناسته وکړي.

واک ته د اسلامي امارت له رسېدو وروسته د روسیې په ګډون ګڼو هېوادونو په افغانستان کې پانګونې ته زړه ښه کړی او د کانونو استخراج، اوسپنې پټلۍ، سولر انرژۍ، بندونو او نورو برخه کې یې پانګونه کړې ده.

**اقتصادي کمېسیون کې**

# د کورنیو تولیداتو په کارولو ټینګار



د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې، چې د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، په هېواد کې د کورنیو محصولاتو په کارولو ټینګار وشو.

په ناسته کې د کورنیو کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو څخه د ګټې اخیستنې د کړنلارې مسوده تائید او د وروستي تصمیم نیونې په موخه د ریاست الوزراء عالي مقام ته واستول شوه. کړنلاره کې راغلي چې لومړي سر کې به د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونه، د استخباراتو لوی ریاست او ورپسې ټولې امارتي اداري او هېوادوال د هېواد له کورنیو محصولات څخه استفاده کوي. افغانستان چې یو کرنیز او په مالدارۍ ولاړ اقتصاد لري، بزګر او مالدار یې د خپلو محصولاتو د نه پلور او زیان اوښتو شکایتونه لري. همدې ته په کتو اقتصادي کمېسیون د کورنیو محصولاتو، بزګرانو او مالدارانو څخه د ملاتړ په موخه یاده کړنلاره تائید کړه، څو افغان بزګران او مالداران له زیان څخه وساتل شي او تر څنګ یې د کورنیو محصولاتو ملاتړ هم وشي.

دغه کړنلاره به په افغانستان کې د اقتصادي پرمختګ او د ملي عوایدو د زیاتوالي لامل شي.

دغه راز، په کمېسیون کې په ساختماني پروژو کې د غوري سیمنټو په کارولو هم ټینګار وشو او سکټوري وزارتونو، ادارو او هېوادوالو ته سپارښتنه وشوه، څو د خپلو پروژو او ساختماني چارو په هغو برخو کې د غوري سیمنټو استفادې ته لومړیتوب ورکړي، چې په هغو برخو کې د دغې فابریکې تولید معیار پوره کړی دی.

د غوري سیمنټو فابریکې مسوولینو ته سپارښتنه وشوه چې د خپل ظرفیت لوړولو او په ټولو برخو کې د معیاري تولید په موخه هڅې وکړي، څو هېواد د سیمنټو په برخه کې ځان بسیاینې ته ورسېږي. د غوري سیمنټو فابریکه د افغانستان په اقتصادي پرمختګ، ملي عوایدو لوړ والي او داخلي اړتیا پوره کولو کې پام وړ رول لوبوي. اسلامي امارت د غوري سیمنټو فابریکې ته ځانګړې پاملرنه کړې. اوسمهال د افغانستان د سیمنټو داخلي اړتیا تر ډېره د غوري سیمنټو له فابریکې څخه پوره کېږي. یاده فابریکه اوسمهال په ۲۴ ساعتونو کې ۷۰۰ ټنه تولید لري. د وروستیو لسیزو اشغال او جګړو له امله د افغانستان کورني اقتصاد کافي وده نه ده کړې او د نړۍ د پرمختګ له کاروانه وروسته پاتې شوی دی. اسلامي امارت هڅه کوي چې د کورنیو محصولاتو د تقویې او ملي اقتصاد غوړېدو له پاره داسې ګامونه پورته کړي چې ورسره د کرنې، مالدارۍ او صنعت سکتور وده وکړي او افغانستان اقتصادي ټیکاو او ځان بسیاینې ته ورسوي.

# د کابل-کندهار سړک کاري پرمختګ



د کابل-کندهار سړک د افغانستان له مهمو لويو لارو څخه دی. د مسافرو د تګ راتګ، کورنۍ سوداګرۍ پياوړتيا او له ګاونډيو هېوادونو سره د افغانستان سوداګريزو اړيکو ټينګولو کې مهم رول لوبوي.دغه لاره چې د تېرې اداري پر وخت د بې کېفيته موادو د استعمال، له قانوني وزن څخه د زيات وزن لېږدوونکو موټرو، طبيعي پېښو او د تېرې اداري د نه پاملرنې له امله سخته ويجاړه شوې وه، اسلامي امارت يې له واک ته رسېدو وروسته د بيا رغونې کارونه پيل کړل. اوسمهال د يادې لويې لارې د بيا رغونې چارې په چټکۍ رواني دي او تمه ده چې نږدې راتلونکي کې به يې چارې بشپړې شي.

د اسلامي امارت چارواکو وخت نا وخت د دغه سړک د بيا رغونې له چارو نظارت کړی او ژمنه يې کړې وه پر وخت به يې په ښه کېفيت سره چارې بشپړوي.

دغه لويه لاره د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لري او د بيا رغونې د چارو په بشپړېدو سره به يې په افغانستان کې سوداګريز فعاليتونه زيات، مسافرو ته تګ راتګ کې اسانتيا رامنځته او له ګاونډيو هېوادونو سره به سوداګريزې اړيکې زياتې شي.

